سمیع الدین افغانی ۲۰۱۸/۱۲/۱۸

# افغان یم

**زه څوک دکوم ملیت دکوم زبان یمه زه؟**

**بس دومره درته وایم چه افغان یمه زه**

پښتون دی که تاجک که هزاره ددی وطن
ازبک نورستانی که پشه ای دی یا ترکمن
ددی خاوری بچیان دی سره یو مو دی مدفن
تاریخ یم جوړونکی د زمان یمه زه      بس دومره درته وایم چه افغان یمه زه

دښمن مو په نفاق کی یو تر بله بیلوی
په رنګ رنګ دسیسو مو په خپل مینځ کی جنګوی
په حیله او نیرنګ مو په قومو جلا کوی
اوس پوه زه د دشمن په بد ګمان یمه زه      بس دومره درته وایم چه افغان یمه زه

د توری په میدان کی هردښمن پدی پوهیږی
افغان باندی په زور او زیاتی کله کلی کیږی
خصلت مودمیرانی دی په دی هرڅوک پوهیږی
په عزم، اراده کی با ایمان یمه زه      بس دومره درته وایم چه افغان یمه زه

راځئ ای خوږو ورونو چه وطن سره اباد کړو
په پوهه هوښیاری باندی دا خپل غلیم برباد کړو
پیشرفت او ترقی ته افغانی عزم بنیاد کړو
بیا سـولی وروروﻟـی ته ارمغان یمه زه        بس دومره درته وایـم چه افغان یمه زه

## یادونه:

که چیری گران لوستونکی وغواړی چی د دی شاعر نوری لیکنی او سرودونو هم ولولی، نو کولای سی چی، پر انځور باندی د «کلیک» په اجرا کولو سره د لیکونکی مقالی د «آرشیف» فهرست ته، لار بنودنه تر لاسه کړی!

افغان یم

Afghani_samehuddin_afghan_yum.pdf